# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۱۳ لیندۍ ۱۴۰۱ هـ ش ۱۰ جمادی الاول ۱۴۴۴ هـ ق ۴ دسمبر ۲۰۲۲ م مسلسله شمېره (۲۲)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې اړوند رياستونو، مديريتونو، عدلي او قضائي مرکز د منحل کولو په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله حکم

**لومړۍ ماده:**

۱ـ د کورنيو چارو وزارت د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې عمومي رياست دې منحل شي، د ياد رياست دندې دې د کورنيو چارو وزارت د جنائي جرمونو د څېړنو عمومي رياست ترسره کړي.

۲ـ د لويې څارنوالۍ او د استخباراتو د عمومي رياست له تشکيل څخه دې د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې اړوند رياست او مديريت منحل شي.

۳ـ که چېرې د استخباراتو د عمومي رياست مسؤولين د اداري فساد د درنو جرمونو په هکله معلومات ترلاسه کړي، مکلف دي چې د کورنيو چارو وزارت د جنائي جرمونو د څېړنو عمومي رياست ته خبر ورکړي.

**دويمه ماده:**

۱ـ د سترې محکمې له تشکيل څخه دې د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې محکمه منحل شي او د يادې محکمې دندې او واکونه دې نظامي محکمې ته تفويض شي.

۲ـ لويه څارنوالي مکلفه ده چې د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې ټولې دوسيې او د سندونو د ثبت د فترونه نظامي محکمې ته تسليم او رسيد ترلاسه کړي.

**درېيمه ماده:**

۱ـ د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضائي مرکز دې منحل شي، تأسيسات (تعميرات) دې نظامي محکمې ته تسليم شي.

۲ـ د کورنيو چارو وزارت او لويه څارنوالي دې خپل وسايل او تجهيزات د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې له عدلي او قضائي مرکز څخه خپلو ادارو ته انتقال کړي.

**څلورمه ماده:**

د کورنيو چارو وزارت د استخباراتو عمومي رياست، لويه څارنوالي او ستره محکمه کولای شي د اړوند رياستونو او مديريتونو منسوبين د اړتيا په صورت کې له اصولو سره سم د خپلو ادارو په نورو برخو کې مقرر کړي.

**پنځمه ماده:**

دغه حکم د صدور له نېټې څخه نافذ او د اجراء وړ دی.

## عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله: قضاء له ټولو ارګانونو خپلواکه او پر ټولو ارګانونو حاکم ارګان دی

کندهار ولايت کې د جوړ شوی ۱۰ ورځنی قضائي سيمينار چې د (کندهار، زابل او غزني ولايتونو د نظامي محاکمو پر قضاتو، مفتيانو او محررنيو سربېره په کې د کندهار د تميز رياست منسوبينو ګډون کړی و، نن (۱۴۴۴/۵/۲ هـ ق) نېټه پای ته ورسېد.

د ياد سيمينار په پای کې چې درې (تدريسي، عملي او مذاکروي) برخې يې درلودې او د محترمو علماوو او شيوخ کرامو لخوا يې ګډونوالو ته اداري اصولنامه، حقوقي اصولنامه، د وثايقو لارښوود، معين القضاة، اصول الافتاء او مجلة الاحکام العدلية کتابونه تدريس شول؛ عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله هم تفصيلي او مهمه وينا وکړه.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د دغه قضائي سيمينار ګډونوالو ته وويل، ټول قضات په خپلو پرېکړو کې خپلواک او مستقل دي او شرعي نظام د محاکمو له فعاليت څخه معلومېږي.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله زياته کړه، قضاء له ټولو ارګانونو خپلواکه او پر ټولو ارګانونو حاکم ارګان دی، که د قضاء اړوند کوم کارونه معطل وي موږ تر نورو ټولو ارګانونو ورته لومړيتوب ورکوو او کارونه يې خلاصوو، که چېرې په قضائي پرسونل کې ډېروالی غواړي موږ به يې ورته منظور کړو.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله وويل، زه به د قضاء خپلواکي او استقلاليت هغه ورځ ومنم چې يو والي يا قومندان له چا سره دعوای ولري، په محکمه کې د قاضي پر مخ کې ناست وي او قاضي پر دغه والي يا قومندان فيصله وباسي او دی ملامت کړي.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د قضاء اړوند تفصيلي وينا کې وويل، د امير امر منل او اطاعت کول په ټولو واجب دی او په ټولو لازمه ده چې د امير اطاعت به کوي.

دغه راز په ياد سيمينار کې د کندهاز د تميز رئيس او د سترې محکمې معاون د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله په هدايت هر اړخيز اصلاحي بيان وکړ.

## د جنوب لويديځ زون د تميز رئيس بادغيس ولايت ته سفر وکړ

د جنوب لويديځ زون د تميز رئيس او د سترې محکمې عالي مقام مرستيال محترم شيخ الحديث مولوي سردار محمد (ابوالفيضان) د يوه پلاوي په مشرۍ بادغيس ولايت ته سفر وکړ.

د جنوب لويديځ زون د تميز رئيس او د سترې محکمې مرستيال شيخ الحديث مولوي سردار محمد (ابوالفيضان) بادغيس ولايت ته د دغه سفر په ترځ کې د ياد ولايت د استيناف محکمې له رئيس او کارکوونکو سره وکتل.

شيخ الحديث مولوی سردار محمد (ابوالفيضان) په دې ليدنه کې د بادغيس ولايت اړوند محاکمو مسؤولينو او منسوبينو ته ګټورې لارښوونې او اصلاحي بيانونه وکړل.

نوموړي وويل، قاضيان دې له مراجعينو او مدعيانو سره ښه چلند وکړي او د پرېکړو پر مهال دې له دقت څخه کار واخلي؛ تر څو د مسلمانانو ستونزې د شرعي احکامو سره سم حل او فصل شي.

د ناستې په وروستيو کې د بادغيس ولايت د محاکمو عمومي رياست د وړانديز په اساس د ښاري ابتدائيه محکمې د ديوانونو په مشرۍ کې بدلونونه راوستل شول، دغه راز په خالي بستونو کې پنځه تنه علماء کرام منظور شول او غونډه د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده چې د بادغيس د استيناف محکمې عمومي رئيس مولوي عبدالخالق (محمدي) او د دغه ولايت د (نهو) ولسواليو د محاکمو او ښاري ابتدائيه محکمې قضائي او اداري مسؤولينو او کارکوونکو ياد ولايت ته د محترم شيخ الحديث مولوي سردار محمد (ابوالفيضان) او ورسره مل پلاوي د سفر تود هرکلی وکړ.

## له ۱۴۴۴/۴/۱۲ نېټې څخه تر۱۴۴۴/۴/۲۵ د تقنيني سندونو او د محاکمو د فيصلو په برخه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د اجراآتو لنډ راپور

۱ـ د سترې محکمې د ديوانونو او مرکزي رياستونو لپاره طرزالعملونه او مقررې ترتيب شوې دي چې عبارت دي له (د جزا ديوان د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د مدني ديوان د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د عامه امنيت د داخلي او خارجي جرمونو ديوان د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د نظامي منسوبينو ديوان د فعاليت مقرره، تجارتي ديوان د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د قضائيه قوې د منسوبينو د پېژندنې طرزالعمل، د مقام د تحريراتو رياست د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د ملکي کارکوونکو د اجراآتو او ارزيابۍ طرزالعمل، د کارکوونکو د ارتباط عمومي مديريت طرزالعمل د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د دارالافتاء رياست د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د قضائي تعليماتو رياست د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د محررينو د ستاژ زده کړو مقرره، د مرکزي عالي تميز رياست د اجراآتو او فعاليتونو مقرره، د قضائيه څواک اداري معاونيت مقرره، د قضائي پلټنې رياست کړنلاره، د پاليسۍ او پلان رياست کړنلاره، د مالي او اداري چارو عمومي رياست د اجراآتو او فعاليتونو طرزالعمل، د دارالانشاء عمومي رياست د اجراآتو او فعاليتونو مقرره او د سترې محکمې د رياست دفتر د اجراآتو او فعاليتونو مقرره).

۲ـ د ۲۰ ډوله وثايقو ابتدائي مسوده ترتيب شوې ده چې عبارت دي له (وثيقه وکالت خط بالاقرار، وثيقه وکالت بالشهود، وثيقه طلاق نامه، وثيقه ضمانت خط، وثيقه ضمانت خط قرارداد، وثيقه حجت قرض حسنه، وثيقه حجت دين، وثيقه تمليک خط، وثيقه اصلاح خط، وثيقه اجاره خط، وثيقه ابراء خط، وثيقه حصر وراثت، وثيقه نفقه خط، وثيقه وصيت خط، وثيقه وصايت خط، وثيقه ايصاء خط، وثيقه تقسيم خط، قباله شرعی، نکاح خط او وثيقه اقرارخط.)

۳ـ د نظامي محاکمو لپاره طرزالعمل ترتيب او د تصويب په موخه د سترې محکمې عالي شورا ته استول شوی دی.

٤ـ د مرافعه، شهري ابتدائيه او د ولسواليو ابتدائيه محاکمو لپاره طرزالعمل ترتيب او د تصويب په موخه د سترې محکمې عالي شورا ته استول شوی دی.

٥ـ د ۵۰ شرعي مختلفو فيصلو کتاب چې ابتدائي مسوده يې ترتيب شوې ده.

**اسلامي حکومت**

**څلورمه برخه:**

**په تير پسې:**

د دغه اسلامي پياوړي پوځ بله دنده د ظالمانو او سرکښانو له منګولو څخه د کمزوري او مظلومو کسانو خلاصول دي، الله تعالی د النساء سورة په ۷۵ آيت کې فرمايي:

ژباړه: آخر څه دليل دی چې تاسې د الله په لاره کې د هغو بېوسه نارينه، ښځينه او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي او تر فشار لاندې نيول شوي دي. او دا فريادونه کوي چې «اې زموږ ربه! موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي يې ظالمان دي وباسه او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پيداکړه.»

اخذليک: تتمة النظام، ۱۴ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## جلسهٔ هماهنگی بین ارگانهای عدلی، قضائی واجرائیوی ولایت پروان تدویر یافت

جلسهٔ هماهنگی ولایت پروان حوالی ساعت (۲:۰۰) بعد از ظهر روز سه شنبه مؤرخ ۱٤٤٤/٤/۲۱ هـ ق مطابق با ۱٤۰۱/۸/۲٤هـ ش تحت ریاست محترم شیخ القرآن والحدیث محمد قسیم»محمدی» رئیس محکمهٔ استیناف پروان جهت رفع مشکلات بین ادارات عدلی، قضائی و اجرائیوی به حضور داشت نماینده‌گان محترم مقام ولایت پروان، نمایندهٔ قومندانی امنیه، ریاست څارنوالی استیناف، څارنوالی نظامی، څارنوالی امنیت داخلی و خارجی، رئیس عدلیه، رئیس استخبارات، رئیس محبس، رئیس صحت عامه، مسؤول طب عدلی و روئسای دیوان‌های محکمهٔ استیناف و محکمهٔ شهری پروان دائر گردید:

جلسه باتلاوت چندی از آیات قرآن عظیم شان توسط محترم الحاج مفتی عزیز الله»حیدری» رئیس دیوان مدنی و حقوق عامه محکمهٔ استیناف پروان آغاز گردید؛ بعداً رئیس محکمهٔ استیناف پروان تشریف آوری حاضرین جلسه را خیرمقدم گفته و باسخنان عالمانهٔ خویش تدویر و مؤثریت همچون جلسات را بیان داشته گفت که جلسات هماهنگی باید در ماه یک بار دایر گردد؛ اما نسبت تراکم کاری که در محاکم ولایت پروان موجود است، کوشش صورت گیرد تا در هر دو یا سه ماه بعد، جلسه بین ارگان های عدلی، قضائی و اجرائیه داشته باشیم.

سپس رئیس محکمهٔ استیناف پروان از حاضرین جلسه خواست تا از لسان پرستی، قوم پرستی و سمت پرستی اجتناب نمایند؛ به خاطری که این عمل زمان جاهلیت وخلاف شریعت اسلام می‌باشد و متوجه باشیم که دشمنان دین از این طریق در بین ما رخنه نکنند، و از اینکه همه میدانند قربانی های که امارت اسلامی افغانستان در راه مبارزه به ضد فساد و بی‌دینی داده است، ما باید دست به دست هم داده کوشش بکنیم که خون شهدای ما زیر پای نگردد وبیرق امارت اسلامی افغانستان همیشه بلند وخار چشم دشمنان باشد.

متعاقباً روی آجندای جلسه بحث صورت گرفت که فشرده آن ذیلاً تحریر میگردد:

۱ – از طرف ریاست محکمهٔ استیناف پروان هفتهٔ یک الی دو بار از ریاست محبس پروان نظارت میگردد؛ الحمدلله تاکنون کدام بندی بی سرنوشت به نظر نرسیده‌است، و هدایت داده می‌شود تا همرای محبوسین برخورد دوگانه صورت نگیرد و رویهٔ نیک انسانی با آنها صورت گیرد.

۲ – هدایت داده شد، اگر در ریاست محترم استخبارات و آمریت محترم جنائی پروان دوسیهٔ جزائی و حقوقی موجود می‌باشد هر چه عاجل جهت فیصله به محاکم فرستاده شود، به خاطری که یک لحظه بندی بدون سرنوشت در حبس زنده‌گی آزاد خود را سپری نکند.

۳ – تاهنوز دربخشهای جزائی و حقوقی محاکم استیناف پروان مجموعاً (۱۸۸۹) دوسیه تحت کار می‌باشد و قضات ما بالای آنها به شدت کار دارند تا به زودترین وقت در مورد آنها فیصله خویش را صادر نمایند.

الحمدالله قضات ما طبق تشکیل این ریاست همه در وظایف خویش مشغول بوده وکار خلق الله را به وجه احسن آن به پیش میبرند، نظر به ملاحظهٔ ریاست محکمهٔ استیناف پروان، در اجراآت قضائی و اداری خویش کدام کمی یاکاستی احساس نمی کند، باز هم اگر ارگان‌های محترم که در این جلسه حضور دارند کدام مشکلات را حس می‌کنید با ما شریک ساخته که تا این ریاست در قسمت رفع آن اقدام نماید.

٤ ـ نهاد های امنیتی و استخباراتی ما که همیشه در قسمت گرفتاری جنایت کاران و به پنجه قانون سپردن آنها به همرای محاکم ما همکاری می‌کنند؛ در آینده نیز همکاری شان را خواهانیم.

٥ ـ محترم مولوی خان محمد»خبیب» رئیس څارنوالی استیناف پروان به نوبه خود گفت که ریاست څارنوالی استیناف پروان زمانی که هدایت از طرف مقام لوی څارنوالی کشور به ما داده شد همه دوسیه ها را به محاکم استیناف پروان ارسال نمودیم وتازمانیکه هدایت از مقامات مواصلت نورزد؛ ما اجراآتی کرده نمی توانیم.

٦ – به همین ترتیب طبق متن آجندای جلسه در مورد مکتوب ارسالی شماره(۱۱۷)مورخ ۱٤٤٤/٤/۱۹ قومندانی محترم امنیه پروان که در آن از شماره اول الی چهارم تحریر گردیده بود و در آن چنین تذکر به عمل آمده و در مورد آن ذیلاً بحث صورت گرفت:

**بخش اول:** در ولایت پروان محاکم نظامی موجود نمی باشد، در صورتیکه ایجاد گردد مشکلات مرفوع خواهد شد و دوسیه های نظامی بصورت درست برسی ورسیده‌گی خواهد قرار گرفت.

**بخش دوم:** در ایام رخصتی بعضی واقعات صورت میگیرد که به تلاشی منازل ضرورت پنداشته میشود باید، پولیس به حضورداشت نمایندهٔ محل، ملا امام مسجد، ملک قریه تلاشی را انجام دهد وبعداً از محاکم محترم صحت اقدام تلاشی خویش را اخذ نمایند تا مجرمین نتوانند از موقع سوی استفاده نمایند.

**بخش سوم:** در قضایای فعل نامشروع (زنا) و (لواط) صورت میگیرد باید نظر اهل خبره در مرحله اول قضیه اخذگردد تا حقایق برملا گردد.

**بخش چهارم:** فیصله های محاکم محترم باید به پولیس خبر داده شود تا مجرمین ومتهمین شناسائی و ثبت دفاتر گردد.

۷ – بعداً محترم مولوی صدیق الله»مخلص» رئیس استخبارات ولایت پروان در سخنان خویش تأکید نمود، ریاست استخبارات ولایت پروان همیشه با محاکم ودیگر ادارات امارتی همکاربوده و می‌باشد، این ریاست قبلاً مجرمین سیاسی را به څارنوالی نظامی ولایت پروان ارسال مینمود، که در این اواخر ارگان مرکزی استخبارات، طی مکتوب جداگانه خویش هدایت فرمودکه من بعد مجرمین سیاسی را به مرکز استخبارات کابل انتقال دهید و این ریاست، طبق هدایت آنها دوسیه های جنائی را به محاکم محترم ارسال مینماید و دوسیه های سیاسی را به کابل انتقال میدهد، همچنان در سخنان خویش افزود رهبری ریاست استخبارات پروان همیشه برای پرسونل استخباراتی خویش تاکیند مینماید که با مظنونین ومجرمین برخورد خوب وقانونی صورت گیرد، تا مثل حکومت گذشته اعتماد مردم از دولت گرفته نشود.

ودر اخیر با تکرار از سخنان اولیه خویش اظهار نموده، ریاست استخبارات پروان با محاکم ولایت پروان طبق قانون همکاری همه جانبه نموده و می‌نمائیم.

به همین ترتیب حاضرین جلسه روی یک سلسله موضوعات وکمبودی های که در مسیر کار روز مره شان بوجود آمده بود صحبت نمودند و در اخیر محترم محمدی رئیس محکمه استیناف پروان جلسه را جمع بندی نموده و در قسمت طرح و پیشنهادات هر یک از شاملین مجلس رهنمائی و هدایت لازم داده شد.

جلسه با دعائیه خیر، واستقرار صلح و سرتاسری در کشور توسط محترم مولوی نورالله «حماد» رئیس محکمه ابتدائیه شهری پروان خاتمه یافت.

## رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت کندز از امور دواوین استینافی، ریاست محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و برخی ادارات مربوطهٔ دیگر نظارت کرد

به تاریخ ۱٤٤٤/٤/۲٦ هـ ق محترم مولوی نورمحمد نوری رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت کندز با همراهی محترم امیر محمد متین جبارخیل رئیس تحریرات به هدف عرضهٔ خدمات بهتر به مردم این ولایت از دواوین استینافی، ریاست محکمهٔ ابتدائیه شهری و دواوین مربوط آن محکمه و آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن محکمهٔ استیناف نظارت به عمل آورد.

در حین بازدید پرسونل قضائی و اداری را متوجه وظایف محوله شان ساخته، در رابطه به پابندی به اوقات رسمیات، سرعت بخشیدن امورات قضائی و اداری، مطالعه و تعمیل مصوبات ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان تأکید نمود.

علاوه بر آن به دواوین که قضایای جزائی را بررسی می‌نماید تفهیم گردید از نتیجهٔ اجراآت شان که در قبال متهمین صورت میگرد ریاست محترم زندان را در جریان قرار دهند در موارد فوق یک سلسله رهنمائی های لازم صورت گرفت.

## دیدار رئیس مرافعه از محکمه ابتدائیه ولسوالی چهارسده ولایت غور

به تاریخ۱٤٤٤/٤/۱۷الی ۱٤٤٤/٤/۲۰ هـ ق محترم مولوی سخی الرحمن «فایز» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت غور با معیت سه نفر از همکاران خویش ازمحکمهٔ ابتدائیه ولسوالی چهارسده ولایت غور بازدید به عمل آورد.

محترم مولوی سخی الرحمن «فایز» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت غور و هیئت همراهش در این دیدار ابتداء با رئیس واعضای قضائی آن محکمه ملاقات کرد، راجع به پیشبرد امورات حقوقی خلق الله،رسیده‌گی به موقع دوسیه‌های وارده حقوقی و جزائی طبق احکام شریعت اسلامی و میعاد معینه بررسی نموده هدایات لازم را در هر بخش ارائیه کرد.

بعداً در مورد روابط حسنه با مراجعین و اصحاب دعاوی طبق رهنمود های ادارهٔ محترم عالی تمیز و مقام عالی ستره محکمه با مسؤولان ، مجاهدین و بقیه ملت پابندی به حاضری توصیه های همه جانبه را ایراد فرمود.

در اخیر با مسؤولین محکمهٔ یادشده با هرکدام جدا، جدا ملاقات کرد و آنها را متوجه مسؤولیت خطیر قضاء نمودند و توصیه های لازم را با ایشان ایراد فرمود.

همچنان پیشنهادات و مشکلات محکمهٔ مذکور را یادداشت و در قسمت اجرای آن به بخش اداری هدایت کرد و به تاریخ ۱٤٤٤/٤/۲۸دوباره به محکمهٔ مرافعه ولایت برگشتند.

## یک کمیسیون متشکل از چند عضو از محبس عمومی ولایت بدخشان بازدید

به تاریخ ۱٤٤٤/۳/۲٤ یک کمیسیون مرکب از مولوی عبیدالله (قانع) عضو محرر و مستشار دیوان جزای شهری، مولوی محمد موسی عضو مفتی دیوان امنیت عامه شهری و سمیع الله «محمدی» محرر دیوان جزای عمومی استیناف تحت ریاست مولوی عبدالجمیل (سائس) رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری غرض بازدید از بررسی وضعیت محبوسین ریاست محبس عمومی ولایت بدخشان، ذریعهٔ مکتوب شماره (۱۰۵۸/۱۱۹۵) مدیریت اجرائیه آمریت عمومی تحریرات ریاست عمومی محکمه استیناف تعین و توظیف گردیده بود؛ از محبس ولایت بدخشان بازدید به عمل آورد.

این هیئت که به تاریخ ۱٤٤٤/۳/۲٤ هـ ق عازم محبس عمومی ولایت بدخشان گردیده است گزارش بازدید خود را به شرح ذیل شریک نموده است:

دربخش زنان: به تعداد (١٤) نفر محبوسین طبقه اناث در محبس موجود بوده و در موارد اعاشه و اباطه کدام مشکل مهم نداشتند؛ از رویه مسؤولین و مؤظفین محبس راضی بودند.

در بخش مردان: به تعداد (۸٦) تن محبوسین طبقه ذکور نیز در محبس موجود بوده و در مورد اعاشه و اباطه کدام مشکل نداشته‌اند.

## د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت له مزکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې د رئیس محترم مولوي عبدالکریم «حقاني» په مشرۍ د دغه ریاست یوه پلاوي د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه.

د استیناف محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي په یاده لیدنه کې د زندان له مسؤولینو سره د بندیانو د بېلا بېلو موضوعاتو لکه د نیول کېدو نېټه، د مسؤولینو چلند، په محاکمو کې د هغوی دوسیو ته په وخت رسېدنه، بندي او محبس ته د محکمې له حکم څخه خبر ورکول، او په اړه یې باید بېرته اړوند محکمې ته ډاډ او اطمینان ورکړل شي، خبرې وکړې.

دغه راز یاد پلاوي د محبس مسؤولینو ته د زندانیانو د حقوقو په اړه لارښوونې وکړې او بندیانو ته یې په دې اړه ډاډ ورکړ چې ستاسو دوسیو ته به په وخت رسېدنه کیږي.

## د پکتیا د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت د زندان له مسؤولینو او زندانیانو سره وکتل

د ١٤٤٤ هـ ق کال د ربیع الثاني میاشتې په ۸مه نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مفتي عبیدالله خالد د دغه ولایت د زندان له مسئولینو او زندانیانو سره لیدنه وکړه.

د مرافعه محکمې رئیس له محبوسینو سره په کتنه کې د هر بندي ستونزې په غور سره واورېدې؛ له بندیانو سره یې تر دوه ساعته مجلس وروسته دوی ته د ستونزو د حل ډاډ ورکړ.

د استیناف محکمې رئیس وویل چې په محبس کې د لوی الله (جل جلاله) عبادت کوئ، د ذکر او اذکارو په کولو یې ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې قضاتو ته ورځ په ورځ زه سپاربښتنه کوم ترڅو ستاسو دوسیې ژر تر ژره وڅېړي او ستاسو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د پکتیا ولایت د عمومي زندان ټولو بندیانو د مرافعه محکمې له رئیس څخه خوښي وښوده او هغه ته یې د خیر دعاګانې وکړې.

مفتي عبیدالله خالد او ورسره مل پلاوي د زندان له ریاست، د زندانیانو د اوسېدو له خونو، د زندان له طعام خونې (آشپزخانې) د زندان ریاست له کلینیک او د زندانیانو د تفرېح له ځایونو څخه لیدنه وکړه.

همدارنګه د مرافعه محکمې رئیس د زندان ریاست د ښځینه محبوسینو د استوګنې ځای له نږدې وکاته، د دوی ستونزې یې واورېدې.

د پکتیا ولایت د زندان مسؤولینو د مرافعه محکمې رئیس ته ډاډ ورکړ چې موږ به له زندانیانو سره نېکه رویه او چلند کوو.

## گزارش سیمینار قضائی و اداری محکمۀ استیناف ولایت جوزجان

به تاریخ۲۳میزان سال ١٤٠١ هـ ش در ولایت جوزجان سیمینار تحت عنوان (اصول اجراآت قضائی و اداری) به اشتراک قضات، مفتی صاحبان و محررین ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان، ریاست محکمه مرافعه ولایت فاریاب و ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت سرپل که تعداد مجموعی آنها به ١٩٨ تن می‌رسید دایر گردید.

جلسۀ که به مناسبت افتتاح سیمینار تدویر یافته بود با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس الحاج مفتی عبدالوهاب (زاهد) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان مهمانان راخوش آمدید گفت و دایر شدن همچون سیمینارها برای قضات و منسوبین دیگر قضائی را یک گام مثبت خواند.

متعاقباً محترم شیخ عبدالرحمن «غزنوی» رئیس تعلیمات قضائی مقام عالی ستره محکمۀ امارت اسلامی افغانستان در رابطه به مقدمۀ موضوع سیمینار صحبت نمود.

بعداً قاضی مدثر طبق تقسیم اوقات سیمینار را شرح داده و اصول و روش محاکمه را مطابق اصولنامه اداری و متحدالمآل‌های مقام عالی ستره محکمه از طرف استادان ریاست تعلیمات قضائی مقام عالی ستره محکمه به شکل ماده وار خوانده و بالای آن از طرف اشتراک کننده‌گان بحث و تبادل نظر صورت گرفت و روزانه برای هر یک از اشتراک کننده‌گان یک، یک قضیه فرضی داده می‌شد و عملاً روی آن فیصله صادر می‌گردید که برای قضات، مفتی و محررین مؤثر بود.

ناگفته نباید گذاشت که میزبانی آن را ریاست محکمۀ مرافعه ولایت جوزجان به عهده داشت که پس از مدت ١٠ روز خاتمه پیدا کرد.

## جلسۀ هماهنگی آمریت ثبت اسناد و وثایق ولایت کابل با مسؤولین ثبت احوال نفوس

طی ماه های اخیر تعداد از شهروندان از جانب ریاست ثبت احوال نفوس غرض ترتیب وثایق مربوط به اصلاح سن، تصحیح اسم، تصحیح یا تغیر نسبت و غیره به محاکم ثبت اسناد و وثایق راهنمائی گردیده؛ علاوه از ازدحام درعقب آمریت های وثایق باعث تکالیف جسمانی بی‌موجب به آنها گردیده است.

آمریت های وثایق شش گانه بناء بر مشکلات اداری موجود در حل مشکل آنها پیشنهاد را به مقام محکمۀ مرافعه کابل تقدیم و تدویر جلسه هماهنگی بین مسؤولین اسناد و وثایق و ثبت احوال نفوس را مطالبه نمود.

مؤرخ ١٤٤٤/٤/٢٠ هـ ق اولین جلسۀ همآهنگی به اشتراک سه تن از مسؤولین ریاست ثبت احوال نفوس، آمرین و اعضا آمریت های وثایق شش گانه تحت ریاست مولوی عبدالغفار»رحمانی» رئیس مرافعۀ کابل در مقر محکمۀ مرافعه دایر گردید.

در این جلسه که با تلاوت آیات کلام مجید آغاز گردید؛ ابتداء سیف الرحمن «لبیب» آمر وثایق حوزه اول مشکلات اداری را که مراجعین ثبت احوال نفوس به آن مواجه می‌باشد چنین توضیح نمود .

ـ مراجعین بدون معرفی کتبی مراجعه می‌نمایند؛ درحالیکه معرفی رسمی شان از جانب ثبت احوال نفوس ضروری بوده و دلایل تغیر اسم با مطالبات دیگر شان به صورت روشن و رسمی ارائیه گردد.

ـ تصحیح اسم در صورتی که به صورت مدلل از جانب ثبت احوال نفوس معرفی شوند وثیقه آن بعد از تحقیق ترتیب میشود.

ـ تصیح اسم پدر، پدرکلان و الی اخیر مربوط به نسب بوده ایجاب می‌نماید موضوع را رسماً به دیوان‌های مدنی حوزه مربوط معرفی و فیصله در مورد صادر گردد.

بعداً هر یک از رؤسای ثبت احوال نفوس نیز مشکلات اداری را که به آن مواجه می‌باشد به ترتیب ذیل توضیح نمودند.

ازجمله مشکلات اداری ثبت احوال نفوس اجراء و ارسال استعلام‌ها به مراجع ذیربط بوده که به آن پاسخ داده نمی‌شود.

اشخاصیکه در طفولیت تذکره اخذ نموده‌اند و مجرد تحریر گردیده، حین اخذ تذکره برای فرزندان شان، نکاح خط برای‌شان توزیع گردد.

همچنان مشکلات در مورد اصلاح اسم مجاهدین که به نام مستعار تذکره اخذ نموده و سایر اتباع کشور که اصلاح اسم خود را مطالبه می‌نمایند از مشکلات ریاست ثبت احوال نفوس بوده که به ارتباط هر مشکل باید وثیقه شرعی ترتیب گردد.

بعداً هر یک از اعضای جلسه نظریات و ملاحظات خود را پیرامون مطالبات و امکانات قانونی توضیح فرموده و در اخیر رئیس محکمۀ مرافعه کابل و رئیس جلسه همآهنگی چنین فیصله نمود.

ـ اشخاصیکه به تصحیح اسم ضرورت دارند رسماً از جانب ریاست ثبت احوال نفوس به آمریت های وثایق معرفی شوند.

ـ اشخاصیکه اسم پدر، پدرکلان و نسب خود را تصحیح یا تغیر می‌نمایند رسماً از جانب ریاست ثبت احوال نفوس به دیوان‌های مدنی حوزۀ مربوط معرفی شوند.

ـ آنعده از شهروندان که در تذکره مجرد تحریر گردیده؛ اما غرض اخذ تذکره به ثبت احوال نفوس مراجعه و آنها غرض تهیه نکاح خط اعزام می‌نمایند عجالتا به دلیل نبود نکاح خط از مطالبه اجرای نکاح خط صرف نظر نموده قرابت آنها را از مجارای غیر از نکاح خط تثبیت نمایند.

در اخیر جلسه با دعائیه خاتمه یافت.

## د زابل د مرافعه محکمې رئیس نوبهار، شملزو، اتغر او شینکۍ ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه

د روان ١٤٤٤ هـ ق کال د ربیع الثانی میاشتې له ١٥ نېټې څخه بیا تر۱۷ نېټې پورې د زابل ولایت محکمې رئیس محترم شیخ نقیب الله (اخندزاده) او ورسره مل پلاوي د مرافعه محکمې د امنیت عامه دیوان محرر مولوي (عبدالنافع فیضان) او د یاد ریاست د تحریراتو آمر حکمت الله (عاصم) ملتیا کوله، د یاد ولایت د نوبهار، شملزو، اتغر او شینکۍ ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د یادو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو له قضائي او اداري چارو څخه له نږدې لیدنه وشوه، د نوموړو ابتدائیه محاکمو د مسؤولینو ستونزې او مشکلات واورېدل شول.

د نوبهار، اتغر او شینکۍ ولسوالیو ابتدائیه محکمې قضائي او اداري چارې ښې رواني وې، چې د روان ١٤٤٤هـ ق کال له پیل څخه د ربیع الثاني میاشتې تر نیمایي پورې د نوبهار، اتغر او شینکۍ ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د فیصلو راپور په لاندې ډول سره وو.

د نوبهار ولسوالۍ ابتدائیه محکمه کې ټولې (١٥) جلده حقوقي او جزائي فیصلې حل او فصل شوې وې، چې له دې جملې څخه (٩) جلده یې حقوقي او پاتې (٦) جلده یې جزائي فیصلې وې.

د اتغر ولسوالۍ ابتدائیه محکمه کې ټولې (٣٠) جلده حقوقي او جزائي فیصلې حل او فصل شوې وې. چې له دې جملې څخه (٢٥) جلده یې حقوقي او متباقي (٥) جلده یې جزائي فیصلې وې.

د شینکۍ ولسوالۍ ابتدائیه محکمه کې ټولې (١٠) جلده حقوقي او جزائي فیصلې حل او فصل شوې وې، چې له دې جملې څخه (٩) جلده فیصلې حقوقي او متباقي (١) جلد یې جزائي فیصله وه.

د شملزو ولسوالۍ ابتدائیه محکمه کې ټولې (٣) جلده حقوقي او جزائي فیصلې حل او فصل شوې وې.

د لیدنو په پای کې د مرافعه محکمې رئیس د نوبهار، شملزو، اتغر او شینکۍ ولسوالیو ابتدائیه محاکمو مثبتې کړنې وستایلې او د شته نیمګړتیاوو د له منځه وړلو په هدف یې د اړوندو ابتدائیه محاکمو مسؤولینو ته په لاندې ډول هدایات وکړل.

محکمه باید د مدعی صورت الدعوی او د مدعی علیه دفع الدعوی په دقیق نظر مطالعه کړي ترڅو چې ټول شروط عمومي او خصوصي په کې پوره نه وي، بناً خپلې فیصلې باید ورباندې ونه کړئ ځکه، چې یوڅو مهم ټکی یې عبارت دي له:

١ ـ نوعه د دعوې په صراحت سره معلومول.

٢ ـ د مدعی بها تعین په صراحت سره.

٣ ـ د حدودو متعلق لکه اصحاب الحدود نسبت د ملکیت، فواصل او دغسې نورو لوازمو په نظرکې نیول.

۴ ـ د ذو الیدي تعین په صراحت سره کول.

۵ ـ دفع الدعوی هم لکه صورت الدعوی ټول شرایط غواړي مهم ټکي دا په کې دي چې مدعی علیه خپل ځانته حدود په کم اعتبار ذکر کړي دي او یا په ټوله کې انکار کوي که په بعضې کې.

۶ ـ بل مهم ټکی دا دی چې مدعی علیه په کې مدعی نوي ګرځېدلی، نوي دعوی ته باید متوجه یاست که نوی دعوی مدعی علیه کړی وي نو باید پر اصل مدعی عرض کړل سي او دفع الدفع ځینې طلب کړل شي، دلته موضوع ته باید ستاسو نظر وي.

۷ ـ کله چې موضوع نهایي شوه د فیصلې مسوده ترتیب کوی د اړوندې محکمې ټول مسؤولین دې په دقت سره مطالعه کړي له مطالعې وروسته دې فیصله ترتیب کړي ترڅو د نواقصو مخه نیول شوې وي.

۸ ـ هغه فیصلې چې د مرافعه محکمې له طرفه دوباره د اصلاح په غرض ابتدائیه محاکمو ته راجع کېږي هغه نقطې او هدایات باید ټکي په ټکي په پام کې ونیول شي او فیصله په لنډ وخت کې اصلاح او د تائید او یا هم تجدید نظر په هدف مرافعه محکمې ریاست مقام ته ولېږل شي.

۹ ـ د مسلمانانو د حقوقو د ترلاسه کېدو او د شکایاتو د مخنیوي په هدف باید د مراجعینو کارونو ته رسېدنه وشي، په محدود وخت کې باید موضوع ورخلاصه شي.

همدارنګه یې د خبرو په پای کې زیاته کړه چې موږ او تاسو ته اسلامي امارت د کارونو د اجراء لپاره پوره امکانات په واک کې راکړي دي؛ نوموړ هم باید په پوره صداقت او ایمانداری سره خپل کارونه پر وخت او زمان اجراء کړو.

## بازدید از محبوسین زندان عمومی کیله‌گی ولایت بغلان

به تاریخ ١٤٤٤/٤/٧ هـ ق تحت رهبری مولوی محمد موسی کلیم (عاصم) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت بغلان به همراهی مولوی احمدالله «مبارک» معاون والی ولایت، مولوی محمد شعیب «عمری» رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری، مولوی صفی الله «مولوی زاده» رئیس دیوان جزاء، مولوی عبدالموبین «مبارز» رئیس دیوان امنیت عامۀ محکمه ابتدائیه شهری و قاری حبیب الرحمن مدیر اجرائیه ریاست محکمۀ مرافعه ولایت از محبس عمومی کلیه‌گی آن ولایت بازدید به عمل آورد.

هدف از بازدید استماع مشکلات زندانیان و رسیده‌گی به آن و همچنان بررسی وضعیت آنها بود.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید نخست مشکلات محبوسین را استماع نموده وبه زندانیان وعده داد که در اسرع وقت در مورد حل مشکلات شان طبق رهنمود امارت اسلامی افغانستان اقدام خواهیم نمود.

رئیس محکمۀ مرافعه ولایت بغلان به رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری و مسؤولان محاکم ولسوالی ها هدایت داد که به روند رسیده‌گی به دوسیه های محبوسین سرعت بخشیده در اسرع وقت فیصله کرده و آن را به محکمۀ مرافعه محول نمایند.

باید گفت که تمام محبوسین این زندان از عرضه خدمات مدیریت زندان و دیگر مجاهدین ابراز رضایت داده‌اند.

سرپرست مسوول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اډيټور: جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

# تعزيرات

## په لوګر کې د استيناف محکمې لخوا ۱۴ مجرمينو ته شرعي تعزيري سزا ورکړل شوه

نن چهارشنبه (۱۴۴۴/۴/۲۹) هـ ق نېټه د لوګر د استيناف محکمې لخوا د پل علم ښار اړوند ورزشي سټديم کې ۱۴ مجرمينو ته د ولايتي اداري مسؤولينو، ديني علماوو، عامو خلکو او قومي مخورو په موجوديت کې د بېلابېلو جرمونو په خاطر تعزيري سزا ورکړل شوه.

په دې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د استيناف محکمې د مدني ديوان مفتي مولوي ګل الرحمن اخندزاده وويل، د اسلام مبارک دين د انساني ژوند ټولې برخې په مکمله توګه واضح کړې او کفار هېڅکله نه پرېږدي، چې د اسلام دين ټول احکام پلي شي او مسلمانان د امن په فضا کې د پوره اتفاق په چوکاټ کې خپل ژوند د اسلامي نظام تر سيورې لاندې تېر کړي.

همداراز د لوګر د استيناف محکمې د ديوان جزا رئيس او د استيناف محکمې سرپرست مولوي فضل الرحيم عابد وويل؛ د دغه مظلوم ملت او تېر شل کلن جهاد هيله همدغه شرعي نظام او د الله حکم جاري کول وو، چې نن الحمدلله د شرعي احکامو په نظر کې نيولو سره د مرکز او يو شمېر ولسواليو د محاکمو لخوا ۱۴ تنه، چې په کې درې تنه زنانه هم شاملې دي د غلا، زنا او نورو فسادونو په تور د خلکو په موجوديت کې تعزيري سزا ويني او په درو وهل کيږي.

ښاغلي مولوي فضل الرحيم عابد زياته کړه، چې په دغه مجرمينو کې ځينو يې اقرار کړی او ځيني نورو باندې يې د تميز محکمې لخوا له تائيد وروسته دا پرېکړه صادره شوې ده.

بايد وويل شي؛ چې له تېرو شلو کلونو وروسته لومړی ځل دی، چې مجرمينو باندې په عام محضر کې د شرعي محکمې لخوا شرعي تعزيري سزا پلې کيږي.

## لغمان ولايت کې دوو مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د شنبې په ورځ (د ۱۴۴۴ هـ ق کال د ربيع الثاني مياشتې په ۱۷ مه نېټه) د لغمان ولايت مقام انګړ کې دوو مجرمينو ته چې يو يې نارينه او بل ښځه وه د نامشروع اړيکو د لرلو په جرم تعزيري سزا ورکړل شوه.

د يادو دوو مجرمينو له ډلې يو نارينه د لغمان ولايت د ښاري محکمې لخوا په ۳۰ او ښځينه په ۲۵ درو تعزيري سزا محکوم شول چې د لغمان د محترم والي صاحب، نورو لوړ پوړو چارواکو او عامو خلکو په حضور کې ورته سزا ورکړل شوه، تر څو د عوامو لپاره د درس او عبرت سبب وګرځي.

د يادونې وړ ده چې يادو مجرمينو ته د تعزيري سزا په ورکولو ټولو حاضرينو خوښي څرګنده کړه او شکر يې اداکړ چې الله تعالی مونږ ته اسلامي نظام را په برخه کړ او فيصلې مو د شريعت سره برابرې کيږي.

د حاضرينو په وينا په دې سره به ان شاءالله د هر ډول فساد مخنيوی وشي.

بايد وويل شي چې د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۴/۱۵ هـ ق نېټه) هم دوو مجرمينو ته چې د علينګار ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې لخوا په ۳۰ ـ ۳۰ درو تعزيري سزا محکوم شوي وو سزا ورکړل شوه او دغه لړۍ به ان شاءالله تر هغې دوام لري چې په وطن کې فساد له منځه لاړ شي.

## ریاست استیناف بامیان به دو تن از مجرمین سزای تعزیزی داد

به اساس هدایت مکتوب شماره (۱٤۷۷ بر ۱۱۷٤) مورخ ۱٤٤٤/٤/۲ ریاست محترم عالی تمیز مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان به تاریخ ۱٤٤٤/٤/۲۳ الحمدلله به توفیق خداوند لایزال حکم قطعی حد تعزیری بالای دو تن از مجرمین از جانب دیوان جزای محکمه ابتدائیه شهری ولایت بامیان به (۲۹) ضربه حد تعزیری محکوم گردیده بود، به اساس قناعت متهمین قضیه حکم صادره از جانب دیوان جزای محکمه شهری و از جانب ریاست عالی تمیز مقام عالی ستره محکمه قطعیت حاصل و امر تطبیق آنرا نیز صادر نموده که به اساس هدایت ریاست عالی تمیز به تاریخ متذکره در حضور داشت تمام پرسونل ریاست محکمه مرافعه ولایت بامیان، محکمه ابتدائیه شهری این ولایت غرض تطبیق حکم شریعت بالای متهمین قضیه در جمنازیوم ورزشی ولایت بامیان با حضور مقام ولایت بامیان و تماماً پرسونل ادارات دولتی، بزرگسالان، علماء و شهروندان دیگر حضور به هم رسانیده و حکم (۲۹) ضربه حد تعزیری بالای هر یک از متخلفین قضیه اجراء گردید.

## تطبیق حد تعزیری بالای ۱۹ تن از محکومین از طرف محکمهٔ مرافعه ولایت تخار جاری شد

با در نظر داشت متحدالمآل شماره ۳۰ مؤرخ ۱٤٤٤/۳/۲۹هـ ق دارالانشاء ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان غرض تطبیق و اجرای حکم بالای ۱۹ تن از محکومین فعل زنا، فرار از منزل و سرقت که ۱۰ تن آنها ذکور و ۹ تن آنها از طبقه اناث بودند و تحت حبس قرار داشتند که دوسیه های نسبتی شان از طریق ریاست محترم دیوان جزای محکمهٔ ابتدائیه شهری و دیوان جزای محکمهٔ مرافعه ولایت تخار تحت غور و بررسی قرار گرفت.

بعد از غور و رسیدگی شرعی و دقیق بالای هر واحد از محکومین (۳۹) دره محکوم گردید که محکومین به فیصله های صادره ابراز قناعت نمودند.

این حکم صادره به روز جمعه مؤرخ ۱٤٤٤/٤/۱٦هـ ق با حضور داشت موسفیدان، علما و شهروندان آن ولایت در مسجد جامع شهر تالقان بعد از ادای نماز جمعه حد تعزیری بالای هر یک از محکومین قضیه تطبیق و اجرا گردید؛ تا پند به مجرمین و عبرت به دیگران گردد.

## د قضائي تفتيش د پلټنې پلاوي د غزني ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضائي تفتيش رياست د پلټنې د پلان له مخې د عمومي رئيس محترم مفتي محمدابراهيم جان(ابوالحافظ) په مشرۍ د ياد رياست د قضائي مفتشينو څخه جوړ اووه کسيز پلاوي د ۱٤٤٤ هـ ق کال د ربيع الاول مياشتې په (۲۷)مه نېټه غزني ولايت ته دعادي پلټنې په موخه سفر وکړ.

ياد پلاوي د سفر په پيل کې د غزني ولايت د مرافعه محکمې له رئيس محترم مولوي محی الدين (عمري) سره وکتل؛ ورپسې يې د خپل کاري پلان له مخې د ياد ولايت د (۱۷) ولسواليو له ابتدائيه شرعي محاکمو، د غزني ښار د ښاري محاکمو له رياست او اړونده ديوانونو، نظامي محکمې او د استيناف اړوند ديوانونو څخه جلا، جلا ليدنه وکړه.

د دغه پلاوي د پلټنيز بهير په ترځ کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه ترسره شوه چې د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د چلند او مسلکي اړخونو پوره معلومات واخيستل شو او د چارو د سمون په برخه کې ورته لارښوونې وشوې.

پر دې سربېره ياد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او لوژستيکي نيمګړتياوې له ځان سره نوټ کړې او د ستونزو د هوارې، د خنډونو د له منځه وړلو او د نيمګړتياوو د اکمال په اړه يې د غزني ولايت د مرافعه محکمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات يې په جلا، جلا توګه ورسره شريک کړل.

دغه راز د قضائي تفتيش پلاوي د بنديانو د وضعيت د څېړلو په موخه د غزني ولايت له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه او د ياد محبس اړوند شاوخوا (۳۰۰) تنه نارينه او ښځينه بنديانو بشپړ شهرت او اړوند نور موضوعات يې له ځان سره نوټ کړل.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش رياست پلاوي د عادي اجراآتو د تفتيش په موخه سرپل ولايت ته سفر وکړ

د سترې محکمې د عالي مقام په هدايت او د قضائي تفتيش د عمومي رئيس په لارښوونه د دغه رياست اړوند مفتشينو يوه پلاوي چې مولوي سيف الرحمن (ذاکر) ،مولوي عبدالولي (مصباح) او مولوي عبدالوارث (سعيد) يې غړيتوب درلود سرپل ولايت ته سفر وکړ.

دغه پلاوي سرپل ته د سفر پر مهال د استيناف، ښاري ابتدائيه محکمې او د هغه ولايت د ولسواليو د ابتدائيه محاکمو د ديوانونود قضائي او اداري اجراآتو ارزونه او تفتيش وکړ.

مؤظف پلاوي له هغو قضائي او اداري منسوبينو څخه چې د سترې محکمې د عالي مقام د اصولو، مقرراتو، متحدالمآلونو او د تفتيش لوی رياست د لايحې مطابق يې خپلې چارې ترسره کړې وې مننه او ستاينه وکړه.

دغه راز يې هغه قضائي او اداري منسوبينو ته چې په خپلو کړنو کې يې نيمګړتياوې احساسېدې دا لارښوونه وکړه چې په راتلونکي کې د دغه ډول کړنو له تکرار څخه ډډه وکړي او د اصولو او مقرراتو په نظر کې نيولو سره په خپلو کړنو کې اصلاحات راولي .

پر دې سربېره مؤظف پلاوي د سرپل ولايت له زندان څخه له نيږدې څارنه وکړه او دا يې تشخيص کړه چې په زندان کې څومره نارينه، څو ښځې او څو ماشومان بنديان دي.

دغه راز ياد پلاوي د زندانيانو شکايتونه واورېدل، او د حل په مقصد يې د دغه ولايت د استيناف محکمې او د ښاري ابتدائيه محکمې له رئيسانو سره شريک کړل.

## گزارش از سفر رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت فاریاب به محاکم ولسوالی اندخوی و خانچهارباغ

به تاریخ ۲٤/ربیع الثانی/ ۱٤٤٤ هـ ق مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت فاریاب و مولوی عبدالکریم رئیس دیوان امنیت عامهٔ مرافعه همراه با هیئت معیتی شان از اجراآت ریاست محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی‌های اندخوی و خانچهارباغ نظارت به عمل آورده شد.

ابتداء رئیس مرافعه با قاضی، مفتی و محرر محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی خانچهارباغ و اندخوی بطور جداگانه دیدن نمود و از حاضری منسوبین روند اجراآت ورسیدگی به عرایض مراجعین بازدید نموده و موضوعات ذیل مطرح و توصیه های لازم بر قضات داده شد.

- در مورد دوسیهٔ حقوقی و جزائی باید زیاد توجه شود و فیصله‌های که صادر میگردد باید مستدل و حواله به نص حکم داده شود تا فیصله صورت گرفته در مطابقت با احکام شرعی و اصول محاکمات امارت اسلامی افغانستان بوده باشد.
- روزانه تعداد کثیری عارضین برای اجرای وثایق و قباله‌جات خویش به محاکم مراجعه می‌نمایند باید قضات در مورد اجرای وثایق خصوصاً قباله‌جات بسیار دقت داشته باشند تا حق هیچ کسی ضایع نگردد.
- در محاکم ولایت چندی قبل هیئت محترم تفتیش و همچنان سیمینار ۱۰ روزه به قضات تدویر یافته بود، قضات محترم نهایت کوشش نمایند تا اجراآت یومیه و فیصله‌جات خویش مطابق رهنمودهای هیئت محترم تنظیم و ترتیب نماید.
- همچنان به تعداد (۷) جلد دوسیه مختلف النوع از ولسوالی اندخوی و به تعداد (۱۰) جلد دوسیه مختلف النوع از بخش جزائی و حقوقی ولسوالی خانچهارباغ و نیز به تعداد (۱۵) جلد وثایق مختلف النوع در ولسوالی‌های متذکره بررسی شد.
- درختم بررسی از اجراآت محاکم متذکره برای قضات و پرسونل شان رئیس محکمه به خاطر تسریع رسیده‌گی به قضایای وارده به مسؤولان محکمهٔ ابتدائیه اندخوی و خانچهارباغ توصیه و رهنمای‌های لازم نموده و نیز در حصه پابندی به حاضری و ترتیب راپور اجراآت وثایق مختلف النوع، ترتیب اثر به مکاتیب که جواب طلب بوده و برخورد سالم با مراجعین تأکید نمودند.

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳